مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۹/۱۸

# بغاوت

ژُهد شو زولانه زنځیر، ازاد انسان ته ولوېده
عشق مستانه رند و ، د ریا زندان ته ولوېده

څوک یم؟ څه یم؟ څه به شم؟ سوال، هیچاته کیلي نه شو
زنګوهلی کولپ شو او د شېخ ایمان ته ولوېده

ګوره که ترې خلاصه شي لمنه د باور، ربه!
لاس د تور ملا د سپین امام ګریوان ته ولوېده

مرګ د ایمان سوال شو او دونیا د دوزخ سره لمبه
ژوند لکه مات لاس غاړې د هر افغان ته ولوېده

اوښکه د لیلا یې د بیابان سراب کې ورکه کړه
مړی د مجنون له تندې شرک باران ته ولوېده

مست د ستورو موج و، ستا جلوه شوه د سپوږمۍ بېړۍ
زړه مې شو ساده ماشوم او ډنډ اسمان ته ولوېده

ته یې کړې پیدا په داسې ځای کې چې چا نه لیدې
بل منصور د بل یو «اناالحق» ګومان ته ولوېده

قُل چې ساقي ووې د قدح قیام ته «قد قامت»
خُم د سرو شرابو په سجده جانان ته ولوېده

مست و د لېوال نظر د یار په شونډو تم نه شو
څاڅکی د شرابو د یاقوتو کان ته ولوېده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ